حفیظ الله خالد.

تاریخ: 8.10. 2026



# د بینن سیوان مړینه

په رښتیا هم چې د مرګ نه تیښته نشته همدا دوه اونۍ مخکې فقید بینن سیوان بی بی سی سره اوږده مرکه درلود، هیچا فکر نه کاوه چې څو ورځې وروسته به هغه لدې فاني دنیا نه کډه وکړي، ته به وای د هغه اروا فقط همدی مرکې ته انتظار ویسته په هر حال دا به د لوی څښتن رضا او حکم و ، خدای دې د هغه کورنۍ او دوستانو ته د زړه صبر او زغم ور په برخه کړي.

فقید بنین سیوان په کال ۱۹۳۷ کې د قبرس په پلازمینه د نیکوسیا په ښار کې زیږدلې خپل ابتدائي او منځني زده کړې یی په نیکوسیا کې سر ته رسولي، وروسته تاریخ او فلسفه یی د کولمبیا په کالج او بین المللی اړیکې یی د کولمبیا پوهنتون کې بشپړه کړ، هغه په کال ۱۹۶۵ کې ملګرو ملتو سټاف سره یو ځای شو او قریب څلویښت کاله یې د ملګرو ملتو مختلفو ادارو کې خدمت کړې. هغه په کال ۱۹۸۸ کې افغانستان لپاره د ملګرو ملتو د استازي د مشاور او بیا په کال ۱۹۹۱ کې افغانستان او پاکستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومی منشي ښاغلی پتروس غالي د خاص استازي په توګه وګمارل شو ،وروسته له هغه چې د جینوا لوزنامه د ملګرو ملتونو تر لاربښونې لاسلیک او شوروی اشغالګر پوځونه زموږ له هېواده ووتل په همدی وخت کې

ملګرو ملتو زموږ هېواد کې د قدرت د سوله ایزی انتقال لپاره ، پنځه فقره ای د سولې پلان تنظیم کړ د سولې د دې پلان پر اساس به قدرت ابتدا یو بی پرې اداری ته لېګدول کیده او هغه بیطرفه اداره به آزاد انتخاباتو ته لاره هوارول، بی له شکه که د ملګرو ملتونو د سولې پلان په وروستیو شیبو کې د یو شمېر د قدرت دتږو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لخواه نه شنډیدل د دی امکان موجود و چي زموږ هېواد کي هم لکه لسګونه نور د ختيځی اروپا او مرکزی ایشیا هېوادونو غوندی قدرت په سوله ایزه توګه بی لدې چي حتی د چا پزه وینه شي یو مشروع حکومت ته لېږدیدل، نه به تنظیمي جنګونه و او نه به پنځه اویا بیګناه انسانان کابل کي له خپله ژونده محرومیده ،او نه به کابل ښار په کنډواله بدلیده همداسي پسي راواخله د جنګونو پایلی تر ننه. خو له بده مرغه د ملګرو ملتونو د سولي پلان زموږ د هېواد د یو شمیر خاینو کړیو لخواه ډپ او د هغه تریخ پایله موږ تر ننه لیدای شو. یو شمیر هغه د قدرت او چوکي وږي عناصر چي د ملګرو ملتو د سولي پلان یي له ناکامی سره مخامخ کړ

فقيد بنين سيوان په خپل وروستي مرکي کي د ډېروتګماراانو او خائينو اصلي څېره بربنډه کړه ، هغه زموږ هېواد کي د نوویمي لسیزی په پیل او د شوروي ځواکونو د وتلو نه وروسته پر حالاتو باندی رڼا واچو او پدې کار سره یې د ځینو په ظاهر بیګناه عناصرو له څېرو نه پرده لري کړ. د هغه وخت په حوادثو ښکیل ځیني عناصر د ځان د سپیناوی پخاطر کتابونه لیکلي تر څو ځان خلکو ته سپینه کوتره وښيي خو تاریخ ته څوګ دوکه ورکولي نشي ژر یا وروسته حقایق رابرسېره کېږي، بنين سيوان د خپل ژوند په وروستي ورځو کي حقایق رابرسېره کړ ،که څه هم هغه پدی کي پاتي راغی چي خپله ژمنه د مرحوم ډاکتر نجيب الله سره عملي کړي چي دا د ملګرو ملتو په تټر یو تور داغ دی ، په تېره بیا چي پدې دیرشو کلونو کي چي د دې پېښي تېر شوی ملګري ملتونه د دې پيښي هیڅ څېړنه هم نده کړي.

په پای کي د یادولو وړ ده چي بنين سيوان او د ملګرو ملتونو د سولي پر پلان باندی نیوکه اکثرأ د هغو کړیو لخواه کېږي چي د ملګرو ملتو د سولي پلان یي ډپ کړ، هغوی د ځان د برائت او د دی ستر تاریخي مسئولیت نه د تیښتي پخاطر دا کار کوي، نن سبا زموږ په ټولنه کي د دوه و خواو راټولول او د یو موضوع په اړه د هغوي ملاتړ لاس ته راوړل څه آسانه کار ندی مګر بنين سيوان پدی وتوانیده چي مختلفو خواوو ، د پاکستان او ایران که میشت تنظیمونو نه نیولی بیا تر ګاونډیو هېوادونو ، ستر قدرتونو ، اسلامی هیوادونو د پاچا شاوخواه خلک لنډه دا چي د ټولو جناحونو ملاتړ یي د ملګرو ملتو د سولی پلان په باره کي لاس ته راوړی ول چي دا په خپله یو لویه لاسته راوړنه وه

سيوان په خپل وروستي مرکه کي په ډاګه کړه چي هغه هیڅ کله هم ډاکتر نجيب الله استعفی ته مجبور کړی نه و او هم نه غوښته د هغه د استعفی خنډ وګري خپله ډاکتر نجيب الله غوښته چي د تنظیمونو مشرانو ته د سولي لپاره کومه پلمه پاتي نشي. .

| د فقيد بينن سوان اروا دې ښاد او یاد یي تل پاتي وي

بقيه مقالات و نوشته های نویسنده را در این لینک مطالعه نمایید.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ